# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

محب سپین غر

۰۴ نومبر ۲۰۱۱

## سرزورې دوه مخي

له څو میاشتو راهیسي د افغان مشرانو تر خنګ په تېره د بهرنیو پوځونو قوماندان پر دي ټکي ځانګړی ټینګار کوي چي وسله وال مخالفان یوازې په دي شرط له دولت سره یوځای کېدای شي چي د افغانستان اساسي قانون ته غاړه کیږدي. خو د حېرانتیا او ان خندا وړ خبره دا ده چي ایا په افغانستان کي دبهرنیو پوځونو شتون په رښتیا هم د افغانستان له اساسي قانون سره سمون لري؟ ایا دوی د خپلو دندو او په ځانګړې توګه د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پرمهال په رښتیا هم په افغانستان کي نافذ قانونونه په پام کي نیسي؟ ایا د بهرنیو ځواکونو جګړه ییز عملیات د افغانستان د وسله وال پوځ د «ستر مشر» تر لاربښووني لاندې ترسره کیږي؟ ایا په هیواد کي روانه لس کلنه جګړه له اساسي قانون سره سم افغان ولسمشر اعلام کړې؟

که پورتنیو پوښتنو ته ځواب «نه» وي، نو ایا دا کار پخپله د افغانستان له اساسي قانونه څرګنده سرغړونه او د هیواد د ملي واکمنی تر پښو لاندې کېدنه نه ده؟

څنګه کېدای شي چي د لانجي یو لوری او هغه هم «متمدن او دیموکرات» لوری دې پخپله د یوه هیواد د مدني او جزا قانون په ګډون ګڼ شمېر قانونونه، دودونه او کولتوري ـ فرهنګي ارزښتونه تر پښو لاندې کوي، خو د همدې هیواد د وګړو له یوې بلي (مخالفي) ډلي دېوغواړي چي: یره وروره! تا موږ هغه وخت منو چي اساسي قانون ته غاړه کیږدې؟

پاتې شوه له طالبانو او «حقاني شبکې» نه د پاکستان د بربنډ ملاتړ او د هغوی د نه ځېني خبره. افغانانو ته مالومه ده چي د ترهګری دځېني ټیکه خو ان لس کاله پخوا لا امریکا په غاړه اخیستې او دا کار په یوازې سر نه، بلکي د څو ځلوښتو هیوادونو د پوځي ټولګیو په ملاتړ ترسره کوي. همدا څو میاشتي مخکي، کله چي امریکایي مشرانو د پاکستان په ایبټ اباد کي د خپل «مشر دښمن» ـ اسامه بن لادن پر خلاف عملیات کول، نو د هغوله پاره یې د یوه خپلواک هیواد ـ پاکستان له چارواکو نه اجازه و نه غوښته.

اوس چي خبره د «حقاني شبکې» ځېنې ته رارسېدلې، نو د افغانستان نړیوال دوستان ولي د دې عملیاتوله پاره رسمي بلنې ته سترګې په لار دي؟

موږ نه وايو چي هره لانجه دې هرو مرو د «ځېنې» او پوځيزور له لارې هواره شي. د پوځي شخړو د له منځه وړلو له پاره، د ساري په توګه، دملګرو ملتونو امنيت شورا او د نړيوالو بنديزونو يو ميکانيزم شته چي تر هر چا مخکي امريکايي او لوېديځو چاروا‌کو ترې په وار وار ګټه اخيستي ده. امريکايي مشران له ترهګرۍ نه د پاکستان د ملاتړد غندني موضوع ولې امنيت شورا ته نه وړاندې کوي او په دې توګه پر پاکستان د نړيوال فشار د زياتېدو له وسيلې نه کار نه اخلي؟ د دغه دوه مخي چلند تر شا څه شی پټدی؟.....

دا خبره روښانه ده چي افغانان هسې خوشي د «پردي»کړکېچ ښکار شوي دي. نور هيوادونه لګيا دي د افغانانو د قربانيو په بيه خپلو ګټو ته د رسېدو په لټه کي دي. هغو د خپلو شخړو په بهير کي د امتيازونو ترلاسه کولو ته ارزانه لار موندلي او هغه د افغانانو سرونه او خاوره ده. په دې کي شک نه شته چېځيني افغانان هم په دغه سوداګرۍ کي ښي ګټي کوي......

امريکا اوبه خړوي چي کبان ونيسي او کبان يې په افغانستان کي د پوځي اډو د اجازې ترلاسه کول دي. خو امريکا د دغه امتياز د ترلاسه کولو له پاره د افغانانو پاکستاني ضد احساساتو ته اړتيا لري. ځکه نو امريکايي کارپوهان لګيا دي اوس همدا کار پر مخ بيايي. نوموړو اوس د جګړې په دې پړاو کي دافغانانو ملي ولولو ته د لوري ورکولو او د ځان په ګټه د هغو د راڅرخولو تاکتيک ته مخه کړې  او دا ځکه چي د افغانانو د زړونود ګټلو جګړه يې ان څو کاله مخکي لا بايللې ده.
يوه دې بله ورپسي وي او هغه دا چي:

**د ليبيا زړه بوګنوونکو پېښو وښوده چي لويديځي ديموکراسۍ د «سياسي انقلاب» او بدلون له پاره پوځي - وسله والي لار ته بېرته مشروعيت ورکړ!!!!**